

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۱۱ | مسلسل نمبر: ۱۰۱

پنجشنبه، د ذوالحجي ۲۲مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال

## د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه



۲ صفحه

## نگرانی امارت اسلامی از تأثیر منازعه ایران و اسراییل بر اقتصاد افغانستان



۲ مه صفحه

## د نباتي خوراکي غوړيو د ځان بسيا کېدو طرحې ته کتنه



۴مه صفحه




# سرلیکنه

د اسلامي امارت لوړپوړی پلاوی د روسيې سنټ پټرزبورګ ښار کې د ۲۰۲۵ ميلادي کال اقتصادي نړيوال کنفرانس کې د ګډون په موخه روسيې ته تللی دی. ياد کنفرانس چې د جون له ۱۸مې بيا د همدې مياشتې تر ۲۱مې پورې د روسيې په سنټ‌پټرزبورګ ښار کې ترسره کېږي، د نړۍ له مهمو اقتصادي ناستو څخه شمېرل کېږي او له ۱۴۰ څخه د زياتو هېوادونو استازي پکې برخه لري. په دې اقتصادي نړيوال کنفراس کې به د چاپېريال ساتنې، کرنې، سوداګرۍ، صنعت، پانګونې او ځينو نورو موضوعاتو په اړه بحث وشي. په ۲۰۲۴ او ۲۰۲۵ کلونو کې د افغانستان د اسلامي امارت استازو په دې کنفرانس کې ګډون کړی چې دا د افغانستان لپاره د اقتصادي او سياسي اړيکو د پراخولو يو مهم فرصت بلل کېږي. د دې کنفرانس له لارې افغانستان کولی شي له نړيوالو په ځانګړي ډول د روسيې او منځنۍ اسيا هېوادونو له پانګوالو او سوداګرو سره اړيکې ټينګې کړي. په دې سره به اسلامي امارت پر دې وتوانېږي چې بهرنيو پانګوالو ته په افغانستان کې د پانګونې له پاره موجود فرصتونه په ګوته او بهرنۍ پانګه راجلب کړي. افغانستان د خپل ستراتيژيک موقعيت له امله د منځنۍ او سويلي اسيا ترمنځ د ترانزيټي دهليز په توګه مهم رول لوبولی شي. دا کنفرانس د داسې پروژو د پراختيا لپاره د بحثونو زمينه برابروي. له روسيې سره د سوداګريزو اړيکو پياوړتيا، په ځانګړې توګه د کرنې، انرژۍ او کانونو په برخو کې کيدای شي د افغانستان له اقتصادي ودې سره مرسته وکړي. د دې نړيوال کنفرانس بله مهمه موضوع کرنه ده. د افغانستان زياته برخه وګړي په کليو کې ژوند کوي او د کليوالو سيمو اقتصاد په کرنه او مالدارۍ ولاړ دی. خو په افغانستان کې لا هم کرنه په دوديز ډول ده او ميکانيزه شوې نه ده. د سنټ‌پټرزبورګ په نړيوالاقتصادي کنفرانس کې افغانستان کولای شي، په دې سکټور کې پانګونه جذب او پر مټ يې کرنيز سيستم عصري کړي. د صنعت او چاپيريال ساتنې موضوعات هم د دې نړيوال اقتصادي کنفرانس د بحث موضوعات دي. د اسلامي امارت پلاوی به هڅه وکړي چې د صنعت د ودې له پاره د ياد کنفرانس د ګډونوالو پاملرنه راواړوي. داچې په نړيواله کچه اقليم مخ په بدليدو دی او چاپيريالي ستونزې يې راولاړې کړې دي، افغانستان اصلا د نړۍ د چاپيريال په ککړېدو کې ونډه نه لري، خو زيان يې ګالي. د دې کنفرانس له لارې به د اسلامي امارت پلاوی هڅه وکړي چې د چاپيريال په برخه کې د شته ستونزو د مخنيوي او يا حداقل د راکمېدو له پاره د نورو هېوادونو همکاري راجلب کړي. که په لنډ ډول وواېو د سنټ‌پټرزبورګ نړيوال اقتصادي کنفرانس کې د اسلامي امارت د پلاوي ګډون به د هېواد د سوداګرۍ، صنعت، پانګونې، کرنې او چاپيريال خوندي ساتلو په برخه کې ګټور تمام شي. د دې برخو په ځانګړي ډول سوداګرۍ، ترانزيټ، صنعت، پانګونې او کرنې په پرمختګ سره به چې د هېواد د اقتصادي ودې اصلي شاخصونه دي، د هېواد اقتصاد په بشپړ ډول وده وکړي او افغانستان به د يوه خپلواک او په خپلو پښو ولاړ اقتصاد څښتن شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

اوونیزه
ابادي
هفته‌نامه آبادی

د اقتصـادي او تـولنيزو مسايلــو په برخـه کـې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

## د ملي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه



د رياســت‌الوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغنـــي برادر اخونـــد په مشرۍ د مـــلي تدارکاتو کمېسيون نوبتي غونډه ترسره شوه. دغه غونډه د روان ۱۴۰۴ لمريز کال د جوزا مياشتې په ۲۸مه نېټه په مرمرينـــه مانـــۍ کې جوړه شـــوه. د مـــلي تدارکاتو کمېســـيون نوبتي غونډې ته له اجنډا سره ســـم ۲۹ پـــروژې د منظورۍ لپـــاره وړاندې شـــوې. له بحث وروسته ۲۴ پروژې تعديل، دوې پروژې منظورې او دوې پروژې لغوه شـــوې. همدارنګه د يوې پروژې په اړه ټاکل شـــوې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له ګټونکـــو شرکتونو سره د پروژې د قيمت په اړه مذاکره ترسره او راپور يې د ملي تدارکاتو کمېسيون راتلونکي مجلس ته وړاندې کړي.

په تعديل شـــوو او منظور شـــوو پروژو کې د کندهار ولايت د احمدشـــاه بابا نړيوال هوايي ډګر د جيولېت رمپ جوړول، د حيرتان – مزارشريف د اوسپنې پټلۍ د ريلي او غير ريلي تاسيساتو بيارغونه، له کونړ څخه تر نورستان پورې د غځېدلي سړک د اول او دويم لاټونو جوړول، د هلمند ولايت د ناوې ولســـوالۍ د شاملان کانـــال بيارغونه، د هېواد په ګمرکونـــو کې د امنيتي کمرو نصـــب او په مختلفو ولايتونو کې د برېښـــنايي پروژو لپاره د اړتيا وړ وسايلو اخيستل شامل دي. يادې پـــروژې د افغانســـتان اســـلامي امـــارت لـــه لوري تمويلېږي.

# اخبـــار اقتصـــادی هفـــته

## نگرانی امارت اسلامی از تأثیر منازعه ایران و اسراییل بر اقتصاد افغانستان



مسوولان امارت اسلامی می‌گویند که تداوم منازعه میان ایران و اسراییل، بر مبـــادلات تجارتی و اقتصادی میان کابل و تهران تأثیر منفی خواهد گذاشت. معین مسلکی وزارت اقتصاد می گوید که این درگیری‌ها سبب افزایش قیمت برخی اقلام، به‌ویژه مواد سوختی در کشور خواهد شد و امارت اسلامی در تلاش است تا راه‌های جایگزین را پیدا کند. عبداللطیف نظری معین مسلکی وزارت اقتصـــاد گفت: «هر نوع درگیری و تـــداوم منازعه میان جمهوری اســـلامی ایران و اسراییـــل می‌تواند مبادلات اقتصـــادی و تجارتی ما را تحت تأثیـــر قرار دهد و باعث افزایش قیمت‌ها، به‌ویژه در حوزه مواد ســـوختی شـــود. امارت اسلامی تلاش می کند که روندهای جایگزین را در ایـــن زمینه مورد توجه قرار دهد تـــا تاثیرات منفی را روی وضعیت اقتصادی کشور نداشته باشد.» با این حال، اتـــاق تجارت و سرمایه‌گذاری نیـــز ایران را یک شریک بزرگ اقتصادی افغانستان می‌داند و می گوید که درگیری نظامی میان ایران و اسراییل بر افغانســـتان نیز تأثیرات منفی اقتصادی خواهد داشـــت. خان جان الکوزی عضو هیأت رهـــبری اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری گفت: «این تنش‌ها و مشکلات ناشـــی از موشک‌پرانی اسراییل بر ایران که منجر به آغاز جنگ شد، برای ما نیز نگران‌کننده اســـت و باعث تشویش شـــده است. این مساله تأثیر مســـتقیم بر اقتصاد ما دارد.» افغانستان پس از عراق، دومین شریک بزرگ اقتصادی ایران به‌شـــمار می‌رود. گذرگاه‌های اســـلام‌قلعه در هرات، میلَـــک در نیمروز و ماهیـــرود در فراه به عنـــوان گذرگاه‌های رســـمی میان افغانســـتان و ایران شناخته می‌شـــود که برای واردات، صادرات، ترانزیت و رفت‌وآمد مســـافران میان دو کشور مورد استفاده قرار می‌گیرند.

## فسخ قرارداد ۲۵ ساله استخراج نفت حوزه آمو دریا با شرکت چینی "اف‌چین"

در یک گام کم‌پیشینه، وزارت معادن و پترولیم اعلام کرده که قرارداد ۲۵ ساله استخراج نفت حوزه آمو دریا با شرکت چینی "اف‌چین" را ملغا ساخت.

به گفته‌ی سخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم، علت فسخ این قرارداد شامل عدم سرمایه‌گذاری مشخص مطابق قرارداد، کوتاهی در حفاری و اکتشاف چاه‌های مشخص شده، عدم ارایه تضمین‌های لازم، استخدام نکردن افغان‌ها، و بی‌توجهی به مسوولیت‌های اجتماعی، محیط زیستی و ارتقای ظرفیت کارکنان این وزارت بوده است.

همایون افغان، سخن‌گوی وزارت معادن و پترولیم، در



این مورد گفت: «کمیته مشترک بین‌الوزارتی ایجاد شد و این کمیته در جریان کار خود دریافتند که شرکت قراردادی مکررا از موضوع فسخ سرپیچی کرده و از تطبیق این قرارداد ناکام مانده و بر اساس پیشنهاد معاونیت اقتصادی و حکم مقام ریاست‌الوزراء قرارداد نفتی دریای آمو با شرکت اف‌چین فسخ شد.» برخی از آگاهان مسایل اقتصادی نیز با توجه بر نیاز افغانستان به منابع نفتی، بر نیاز دقت و بررسی بیشتر در روند واگذاری معادن کشور تأکید دارند، که به باور آنان، واگذاری پروژه ها به شرکت‌هایی که شریک داخلی داشته باشند، می تواند از تکرار چنین مواردی جلوگیری کند. این قرارداد در ۵ جون ۲۰۲۳ میلادی به امضاء رسیده بود که بر اساس آن، شرکت چینی متعهد به سرمایه‌گذاری ۱۵۰ میلیون دالر در سال نخست و ۵۴۰ میلیون دالر در مجموع سه سال شده بود. این تصمیم در حالی گرفته شده که پس از روی‌کار آمدن دوباره امارت اسلامی در افغانستان، تلاش‌ها در راستای بهره‌گیری از منابع طبیعی داخلی برای رشد اقتصادی افزایش یافته است.

## کندهار؛ سر کال د غنمو په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی

د کندهار ولایت د کرنې اوبو او مالدارۍ ریاست مسوولین وایي، چې په دغه ولایت کې د نورو کلونو په پرتله سر کال د غنمو په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د مسوولینو په خبره سر کال کندهار کې پر ۹۸ زره ۳۸۲ هکتاره ځمکه غنم کرل شوي وو، چې له دغو کروندو څخه شاوخوا ۳۶۸ زره ۹۳۱ ټنه غنم راټول شوي دي. سرچینې وایي کندهار کې د غنمو حاصلاتو کې داسې مهال زیاتوالی راغلی، چې په ټول هېواد کې د نشه يي توکو پر ببر او پلور د اسلامي امارت له‌خوا بندیز لګول شوی دی. د کندهار د کرنې او مالدارۍ ریاست د کرنیزو چارو امر ایمل حکیمي د غنمو د حاصلاتو ډېروالي لامل د ناروغیو نشتون او د نشه يي توکو د کښت مخنیوی یاد کړی دی.



## ماليي وزارت:
## ايران سره سوداګري په عادي ډول روانه ده

د ماليي وزارت ویلي، چې له ایران سره د افغانستان پولې او ګمرکونه ترانزیټي دي او سوداګریزه راکړه ورکړه له کومې ستونزې پرته په عادي توګه روانه ده. د دغه وزارت په اعلامیه کې راغلي، چې د ایران په بندر عباس کې هم د افغانستان د سوداګریزو توکو بارګیري له کومې ستونزې پرته دوام لري.




ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ابادي اوونيزه
هفته نامه آبادی




# د نباتي خوراکي غوړيو
## د ځان بسيا کېدو طرحې ته کتنه

قيس احمد

### سريزه

خوراکي غوړي د انسانانو په ژوند کې يو له اړينو توکو څخه ګڼل کېږي چې عموماً له حيواني او نباتي سرچينو څخه ترلاسه کېږي. اوسمهال په ټوله نړۍ کې د پام، سويابينو، شرشمو، لمرګلي، ممپليو، پنبې دانې او زيتونو غوړي کارول کېږي. دا غوړي د غوړ لرونکو بوټو څخه ترلاسه کېږي. د غوړ لرونکو بوټو څخه د غوړيو سربېره نور محصولات لکه طبي دواګانې، کاغذ، عطريات، صابون، د عفونت ضد کريمونه او نور هم لاسته راځي. له همدې کبله غوړ لرونکي بوټي يو له ستراتيژيکو کرنيزو محصولاتو څخه ګڼل کېږي.

افغانستان د يو کرنيز هېواد په توګه د نباتي غوړيو د توليد ښه ظرفيت لري. د کرنې له نظره په افغانستان کې د زيتون، لمرګلي، شرشم، پنبې دانې، زغر، کنځلې او سويابين بوټي کرل کېږي او د خوراکي نباتي غوړيو په برخه کې د هېواد د اړتيا پوره کولو وړتيا لري.

همدې اړتيا د پوره کولو لپاره په هېواد کې دننه موجود ظرفيت ته په کتو د افغانستان اسلامي امارت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د نباتي خوراکي غوړيو په برخه کې د هېواد په کچه د ځان بسياينې طرحه ترتيب او د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ يې اقتصادي کميسيون ته وړاندې کړه. ياده طرحه د اقتصادي کميسيون له لورې تاييد شوه چې موږ په مقاله کې ورته لنډه کتنه کړې ده.

### د طرحې پېژندنه

د خوراکي نباتي غوړيو د ځان بسيا کېدو په لور طرحه د افغانستان په اوسنيو شرايطو کې يوه له مهمو او اړينو طرحو څخه ګڼل کېږي. دغه طرحه د افغانستان اسلامي امارت د رياست الوزراء عالي مقام د ۱۴۴۴/۲/۲۴ نېټې ۱۳۰ ګڼې لارښوونې پر بنسټ د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ترتيب کړې ده.

د طرحې په لومړۍ برخه کې د خوراکي نباتي غوړيو او نړيوال توليد او مصرف ظرفيت په اړه عمومي معلومات راوړل شوي. په دوهمه برخه کې هغو غوړ لرونکو دانو د کښت او حاصلاتو په اړه معلومات وړاندې شوي چې په افغانستان کې ښه حاصل ورکوي.

د دغه طرحې په دريمه برخه کې د پنځو کلونو په موده کې د طرحې لپاره اټکل شوې بوديجه، د غوړ لرونکو بوټو حاصلات او اټکل شوېو عوايدو په اړه بحث شوی دی.

### د خوراکي غوړيو سرچينې او ډولونه

په نړيواله کچه نهه ډوله د (پامو، سويابينو، شرشمو، لمرګلي، ممپليو، د پام دانو مغز، پنبې دانې او زيتون) نباتي غوړي موجود دي. په دې کې په زياته اندازه غوړ له پامو، وروسته له سويابينو، شرشمو، لمرګلي، د پام دانې مغز، ممپليو، پنبې دانې، کوپرې او زيتون بوټو توليدېږي. د نړۍ اکثره هېوادونه د خوراکي نباتي غوړيو د توليد له پلوه پر ځان بسيا نه دي او په وارداتو ولاړ دي.

### افغانستان؛ د خوراکي نباتي غوړيو لپاره مناسب ځای

افغانستان په مختلفو سيمو کې د بېلابېلو اقليمونو په درلودو سره تقريباً د ټولو ښېړ ډوله غوړ لرونکو بوټو لکه پنبې، سويابينو، کنځلو، شرشمو، زغرو او د لمرګلي د کښت لپاره مناسب دی. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د ارقامو او معلوماتو پربنسټ، پنبه، سويابين، کنځلې او شرشم د نورو کرل شوو بوټو په پرتله نسبتاً ښه ګټه لري. د پنبې د تخمونو حاصلات په بېلابېلو ولايتونو په ځانګړې ډول بلخ، هلمند او نيمروز کې په ډېرو سيمو کې کرل کېږي.

د دې طرحې پر اساس، په پنځو کلونو کې د ۲۰ سلنه ځان بسياينې لپاره ۲۸۸۸۴۸ هکتاره ځمکه ويشل کېږي. په دې طرحه کې د کښت لپاره د ځمکې د تيارولو او په ښه ډول د طرحې پلي کولو په موخه وړانديز کېږي چې بايد په لومړيو کلونو کې په ډېرې فيصدۍ سره ځمکه وويشل شي.

د دې طرحې پر بنسټ، په ۱۴۰۳ کال کې د ۲۰ زره ټنه، په ۱۴۰۴ کال کې د ۳۹,۵ زره ټنه، په ۱۴۰۵، ۱۴۰۶ او ۱۴۰۷ کلونو کې په ترتيب سره ۵۹، ۷۹ او ۹۸ زره ټنه نباتي خوراکي غوړيو د توليد اټکل کېږي. د دې طرحې پر اساس، په کلنې ډول د حاصلاتو د ډېرېدو سلنه څلور اټکل شوې ده. د دې طرحې پر اساس اټکل کېږي چې په هېواد کې پر ټاکل شوې ۲۸۸۸۴۸ هکتاره ځمکه باندې د غوړ لرونکو بوټو په پايله کې به په ۱۴۰۴ کال کې ۱۸ سلنه، په ۱۴۰۵ کال کې ۲۲ سلنه، په ۱۴۰۶ کال کې ۲٦ سلنه او په ۱۴۰۷ کال کې به ۳۰ سلنه د هېواد د خوراکي نباتي غوړيو اړتيا له کورنيو سرچينو پوره شي.

د خوراکي نباتي غوړيو ترڅنګ به په ۱۴۰۴ کال ۱۰٦٦۸۹ ټنه، په ۱۴۰۵ کال کې ۱٦۰۰۳۳ ټنه، په ۱۴۰٦ کال کې ۲۱۳۳۷۸ ټنه او په ۱۴۰۷ کال کې به ۲٦٦۷۲۲ ټنه کنجاره هم توليد شي.

### د خوراکي نباتي غوړيو په برخه کې د افغانستان کلنۍ مصرف او اړتيا

نباتي خوراکي غوړي د خلکو له لومړنيو او اساسي خوراکي اړتياوو څخه دي. د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د شمېرو له مخې، افغانستان هر کال ۴۹۳۹۲۰ ټنه خوراکي


ABAADI ONLINE WEEKLY
د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه
اباديِ اوونيزه
هفته‌نامه آبادی

غوړيو ته اړتيا لري، چې اوسمهال د کورنی اړتيا لس سلنه په کور دننه توليديږي او پاتې نور له بهر څخه واردېږي. د ارقامو له مخې، اوسمهال په ټول هېواد کې د خوراکي غوړيو د توليد ۵۴ فابريکې شته چې د جوارو، لمرګلي، سويابين، پنبې، زغر، کنځلو او شرشمو څخه په ورځني ډول ۱۵۲۱ ټنه، په مياشتني ډول ۴۵۶۳۰ ټنه او په کلني ډول ۵۴۷۵۶۰ ټنه غوړيو د توليد ظرفيت لري. د دې طرحې له مخې به په پنځم کال د هېواد کورنی اړتيا تر ۳۰ سلنې پورې له کورنيو سرچينو پوره شي.

په دې طرحه کې اسلامي امارت د لومړۍ درجې مالي ملاتړې په توګه ګڼل کېږي. د ملي دفاع، کورنيو چارو، عامې روغتيا، لوړو زده کړو او د چارو اداري لوی رياست په ګډون د اسلامي امارت مهم بوديجوي واحدونه د غوړيو مهم مصرفوونکي دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت او خصوصي سکټور د کورنيو تندارتونونو او بازارموندنې په جوړولو سره د هېواد د خوراکي غوړيو د مصرف کوونکو پام ځان ته اړوي.

د دې طرحې او د خوراکي غوړيو د توليد د ملاتړ لپاره د اسلامي امارت له لوري په وارد شويو غوړيو تعرفې او په ټيټ کيفيت لرونکو غوړيو محدوديتونه وضع کېږي.

## د طرحې اقتصادي ارزښت

د پنځو کلونو په موده کې د طرحې ګټه نږدې ۸۱ ميلیارده افغانۍ اټکل شوې چې شاوخوا ۲۳ ميلیارده افغانۍ د غوړيو او ۵۸ ميلیارده افغانۍ نور محصولات (مالوچ او کنجاره) پورې اړه لري. دا يوه هراړخيزه اقتصادي طرحه ده او د خوراکي غوړيو په برخه کې د ځان بسيايني پر لور د ګړندي ګام په توګه کار کوي. ... خوراکي غوړيو په برخه کې د ځان بسياينې پر لور د تګ ترڅنګ به د پلي کېدو په لومړي کال شاوخوا ۱۴۱ ميليون ډالره او د پلان په پنځم کال به شاوخوا ۷۰۴ ميليون ډالره عوايد ترلاسه شي. په همدې توګه که په انفرادي توګه محاسبه شي، د طرحې په لومړي کال د سړي سر عايد شاوخوا څلور ډالره او په پنځم کال به د سړي سر عايد شاوخوا ۱۸ ډالره وي.

دغه طرحه به نوي کاري فرصتونه هم رامنځته کړي چې د اسلامي امارت له مهمو اقتصادي موخو څخه ګڼل کېږي. په يو هکتار ځمکه به په لومړي کال لږ تر لږه پنځه هېوادوالو ته د موسمي کار زمينه برابره شي او په پنځم کال به ۴،۱ ميليون هېوادوالو ته موسمي دندې برابرې کړي.

## د دې طرحې د تطبيق لپاره برابر شوي شرايط

- د غوړ لرونکو بوټو د کښت او توليد لپاره د اسلامي امارت ملاتړ شتون؛
- د هېواد په ټولو سيمو کې امنيت؛
- د غوړ لرونکو بوټو د توليد او پروسس په برخه کې د اماراتي شرکتونو شتون؛
- د اماراتي شرکتونو د مالي او بشري منابعو شتون؛
- د غوړ لرونکو بوټو د کښت او حاصل راټولولو له طريقو سره د کروندګرو نسبي بلدتيا؛
- په هېواد کې د خالصو نباتي خوراکي غوړيو توليد؛
- د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت سره د کرنيزو ماشينونو شتون؛
- د نباتي خوراکي غوړيو لپاره د ملي او نړيوال بازار شتون؛
- د هېواد په بېلابېلو برخو کې د للمي او ابي ځمکو درلودل؛
- په وروستيو کلونو کې د اوبو نويو بندونو او کانالونو جوړول؛
- د تخمونو د توليد په برخه کې د همکارو موسسو لکه FAO او NEI شتون.

## پايله

د نباتي خوراکي غوړيو طرحه يوه اقتصادي طرحه ده. د دغه طرحې له مخې، افغانستان د غوړ لرونکو بوټو د کر مناسب هېواد دی. افغانستان په مختلفو سيمو کې د بېلابېلو اقليمونو په درلودو سره تقريباً د ټولو ډولونو شپږ ډوله غوړ لرونکو بوټو (پنبې، سويابينو، کنځلو، شرشمو، زغرو او لمرګلي) د کښت لپاره مناسب دی.

دغه طرحه د پنځو کلونو لپاره جوړه شوې ده چې په دې موده کې به ياد بوټي په څه باندې ۲۸۸ زره هکتاره ځمکه باندې کرل کېږي. د طرحې د تطبيق په پنځم کال به د نباتي خوراکي غوړيو په برخه کې د هېواد ۳۰ سلنه اړتيا له کورنيو سرچينو پوره شي. ۱،۴ ميليون هېوادوالو ته به موسمي کاري دندې پيدا شي او همدا راز به د پنځو کلونو په جريان کې شاوخوا ۸۱ ميلیارده افغانۍ عوايد راټول شي.

## د بهرنيو اسعارو بيې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنيو اسعارو د نن ورځې بيې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امريکايي ډالر | ۷۰،۹۰؋ | ۷۰،۹۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلدارې | ۲۴۰؋ | ۲۴۱؋ |
| ۱۰۰۰ | ايراني تومن | ۰،۷۲؋ | ۰،۷۳؋ |
| ۱ | اروپايي يورو | ۸۱،۶۰؋ | ۸۱،۶۶؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰،۹۰؋ | ۰،۹۰؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلدارې | ۸۲۲؋ | ۸۲۳؋ |
| ۱ | انګليسي پوند | ۹۵،۵۷؋ | ۹۵،٦٤؋ |
| ۱ | سعودي ريال | ۱۸،۹۲؋ | ۱۸،۹٤؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۹،۳۳؋ | ۱۹،۳۵؋ |
| ۱ | چيني ين | ۹،۸۸؋ | ۹،۸۹؋ |

